# جریده میـــزان

د ستري محکمې کاري څرګندویه خپرونه

**د هستۍ نظام پر عدل ولاړ دی**

عادل خدای (جل جلاله) په سورة الرحمن کې فرمايي:
ژباړه: الله (جل جلاله) آسمان پورته کړی او تله يې ايښې ده، ترڅو تاسو په تله کې تېری ونه کړئ.
زیاتره اسلاف له دې نه دا استنباط کوي، که په کائناتو کې د حق او عدل ساتنه ملحوظه نه وي، نو د نړۍ، نړۍ والو او ټولو کائناتو دا ټول انتظام، ساتنه او انضباط سره ګډوډ کیده.
تفسیر کابلی، ج ۲، ص ۱۳۰۳

د تأسیس کال ۱۴۴۳ هـ ق ۱۴۰۰ هـ ش

شنبه ۸ تله ۱۴۰۲ هـ ش | ۱۵ ربیع الاول ۱۴۴۵ هـ ق | ۳۰ سبتمبر ۲۰۲۳ م | مسلسله شمیره (٤٤)


## د سترې محکمې د عالي شورا د (۱۴۴۵) هـ ق کال څلورمه غونډه ترسره شوه

د چهارشنبې په ورځ (۲۸/ صفرالمظفر/۱۴۴۵ هـ ق) نېټه د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ د سترې محکمې د عالي شورا د ۱۴۴۵ هـ ق کال څلورمه غونډه ترسره شوه.

د سترې محکمې د عالي شورا په دې ناسته کې چې د سترې محکمې د رئیس او قاضي القضات محترم شیخ عبدالحکیم (حقاني) صاحب په مشرۍ جوړه شوې وه د عالي شورا غړو محترم شیخ محمدقاسم (راسخ)صاحب، محترم شیخ عبدالمالک (حقاني) صاحب، محترم شیخ خیرجان (خیرخواه) صاحب، محترم شیخ محمد شریف (حقاني) صاحب او محترم مفتي عبدالرشید (سعید) صاحب ګډون درلود.

د عالي شورا په دې ناسته کې د غونډې په اجنډا کې د شاملو لسو (۱۰) مهمو موضوعاتو په اړه تر تفصیلي خبرو وروسته د یادو موضوعاتو اړوند فیصلې صادرې شوې.

د سترې محکمې د عالي شورا یاده ناسته د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش یوه پلاوي د غور ولایت له شپږو ولسوالیو څخه لیدنه وکړه

د جنوب غرب زون د تمیز ریاست او د سترې محکمې د قضائي معاونیت د محترم مقام د هدایت په اساس د جنوب غرب زون د قضائي پلټنې عمومي ریاست د خپل تفتیشي پلان له مخې د یاد ریاست د قضائي پلټونکو څخه جوړ پنځه کسیز پلاوي چې په ترکیب کې یې د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش معاون شتون درلود د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۲٤مه نېټه غور ولایت ته سفر وکړ.

د قضائي تفتیش دغه پلاوي لومړی د غور ولایت د مرافعه محکمې له رئیس سره د هغه په کاري دفتر کې وکتل او د محاکمو د ځینې مشکلاتو او د محاکمو د پرمختګ په اړه یې ورسره هراړخیزې خبرې وکړې؛ وروسته یې د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنې او بررسۍ په موخه د خپل کاري پلان له مخې د صفرالمظفر میاشتې په ۲۵مه نېټه د یاد ولایت ولسوالیو ته سفر وکړ.

د جنوب غرب زون د تمیز ریاست د قضائي تفتیش دغه پلاوي د خپل سفر په جریان کې د غور ولایت د الله یار، الفاروق، چهارسدې، مرغاب، لعل و سرجنګل او دولت یار ولسوالیو له ابتدائیه محاکمو څخه لیدنه وکړه.

د قضائي تفتیش یاد پلاوي د غور د ابتدائیه محاکمو څخه د لیدنې پر مهال د یادو محاکمو لخوا صادرې شوې فیصلې بررسي او په دقت مطالعه کړې او د شرعي فیصلو د صادرولو په اړه یې د محاکمو مسؤولینو ته لازمې لارښوونې وکړې.

وروسته یې د یادو محاکمو ملاحظات د هرې محکمې د قضائي پلاوي سره په احسنه طریقه شریک کړل او له مسؤولینو څخه یې د وضاحت غوښتلو د طرزالعمل مطابق د یادې هرې ولسوالۍ د قضائي منسوبینو څخه پوښتنې وکړې.

په دې سربېره دغه پلاوي د خپلې کاري لایحې مطابق د یادو ټولو ابتدائیه محاکمو د عریضو د ثبت، د حقوقي دوسیو د ثبت، د جزائي دوسیو د ثبت، وارده او صادره، د رسیداتو کتاب، د حاضرۍ کتاب او درې میاشتنی راپور بررسي او مطالعه کړل او په دې برخه کې یې ورته لازم هدایات وکړل.

وروسته یاد پلاوي د رایو په اتفاق د یادې هرې محکمې د فیصلو د صحت او سقم فیصدي معلومه کړه.

دغه راز د قضائي تفتیش پلاوي د بندیانو د وضعیت د څېړلو په موخه د یادې هرې ولسوالۍ له محبس څخه لیدنه وکړه، د هرې ولسوالۍ د ټولو محبوسینو بشپړ شهرت او وضعیت یې له ځان سره یادداشت او بیا یې له اړوند محکمې سره شریک کړی.

پر دې سربېره یاد پلاوي د هرې ولسوالۍ له قومي مشرانو او علماء کرامو سره جلا، جلا ناستې وکړې او د محاکمو د فعالیتونو په اړه یې د هغوی نظر او معلومات واخیستل.

وروسته د جنوب غرب زون د قضائي تفتیش عمومي ریاست پلاوي د یادې هرې ولسوالۍ د مسؤولینو لکه: ولسوال صاحب، امنیه قوماندان صاحب او د استخباراتو له مدیر سره وکتل، له یادو مسؤولینو څخه یې د مربوطه محکمې په اړه معلومات وغوښتل او د محاکمو د فعالیتونو د لابنه پرمختګ او د ځینو ستونزو د حل په اړه یې د هغوی نظرونه واورېدل.

## د قضائي تفتیش عمومي ریاست مفتیشینو د بدخشان ولایت له محاکمو او مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه

د سترې محکمې د محترم مقام د هدایت په اساس د قضائي تفتیش د عمومي ریاست د معاون محترم حافظ مولوي عبدالولي (محمود) په مشرۍ یومؤظف پلاوي چې مولوي حبیب الله (حبیب)، مولوي روزي محمد (زمیل) او مولوي اخترمحمد (مظهري) یې غړیتوب درلود، د ۱۴۴۵ هجري قمري کال د محرم میاشتې په (۲۰مه) نېټه د بدخشان ولایت د محاکمو د تېرو فعالیتونو د څېړنو په موخه یاد ولایت ته سفر وکړ.

د قضائي تفتیش دغه پلاوي د خپل سفر په پیل کې د بدخشان ولایت د مرافعه محکمې له رئیس صاحب سره وکتل؛ ورپسې یې د بندیانو د ستونزو د څېړلو په موخه د بدخشان ولایت له مرکزي زندان څخه لیدنه وکړه او د یاد محبس ټول اړوند نارینه او ښځینه بندیانو بشپړ شهرت، کیفیت او نظریات یې له ځان سره یادداشت او بیا یې د اړوند محاکمو له مسؤولینو سره شریک کړل.

د سترې محکمې یاد پلاوي د خپل کاري پلان له مخې د بدخشان د مرافعه محکمې، ښاري ابتدائیه محکمې او د ( ۲۷ ) ولسوالیو د ابتدائیه محاکمو، د اسنادو او وثایقو له شعبو او د حقوقو له امریت او مدیریتونو څخه جلا، جلا لیدنه وکړه.

د قضائي تفتیش دغه پلاوي د پلټنیز بهیر په ترڅ کې د یادو محاکمو د قضائي، اداري او مالي چارو هراړخیزه پلټنه ترسره کړه او د محاکمو د قضائي او اداري کارکوونکو د سلوکي او مسلکي اړخونو پوره معلومات یې واخیستل او د چارو د سمون په برخه کې ورته لازمې لارښوونې وکړې.

یاد پلاوي د محاکمو اړوند شته ستونزې، کاري خنډونه او لوژستیکي نیمګړتیاوې له ځان سره نوټ او په پای کې یې د ستونزو د هوارې، د خنډونو د له منځه وړلو او د نیمګړتیاوو د اکمال په اړه د بدخشان ولایت د مرافعه محکمې د ریاست له مقام سره تفاهمي ناسته ترسره کړه او ټول ملاحظات یې په جلا، جلا توګه ورسره شریک کړل.

د پلټنې هیئت د خپل سفر په دوران کې دولسوالیو له مسؤولینو او د بدخشان ولایت له محترم مرستیال والي صاحب سره لیدنه وکړه او د محاکمو د فعالیتونو د لا ښه پرمختک او د ځینو مربوطه ستونزو د حل په باره کې یې د هغوی نظرونه واورېدل.

د سترې محکمې یاد پلاوي د محاکمو په وړاندې شته ستونزې او د خلکو شکایتونو په دقیق او هراړخیزه توګه وڅېړل.

### د نجران تازه ګمارل شوي قاضي علاء بن حضرمي رضي الله عنه ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم لیک

**څلورمه برخه**

دا د الله تعالی هغه سپېڅلی کتاب دی، چې د روح الأمین (جبرائیل علیه السلام) په واسطه د دې نړۍ په غوره شخصیت محمد بن عبدالله نازل شوی دی.

هغه محمد چې د الله بنده، نبي او رسول دی، چې ټولو مخلوقاتو ته یې د رحمت په توګه لیږلی دی، هغه که انسانان وي او پېریان، سپین وي که تور او د الله تعالی په یاد کتاب کې ستاسو څخه د مخکنیو او راتلونکو کسانو کیسې پکښې شته، تر څو د خلکو ترمنځ یو مانع وي او الله تعالی د دغه کتاب په وسیله ځیني له ځینو ساتي او دې کې د ځینو څخه مخ ګرځونه هم شته او دا هغه کتاب دی، چې پر نورو کتابونو غالب دی او د هغه شیانو چې په تورات، انجیل او زبور کې راغلي دي تصدیق کوونکی دی، په دې کې الله تعالی تاسو په هغه شیانو خبروي چې ستاسو څخه مخکې پېښ شوي، هغه څه چې تاسو یې د خپلو پخوانیو پلرونو په اړه معلومات نه لرئ، کوم چې د الله تعالی نبیانو او رسولانو دوی ته راوړي وه، چې بیا د دوی ځواب څنګه ورته وو، ولې یې رالېږلي وه، د الله تعالی په آیتونو د دوی تصدیق او دروغ ګڼل څنګه وو، نو الله په خپل کتاب کې د دوی حالت او عمل بیان کړی او همدارنګه یې د هغه کسانو حالت بیان کړی چې د دین له امله هلاک شوي دي، چې ځانونه ځنې وساتي او د دوی په څېر اعمالو ونه کړي، تر څو د الله تعالی د دکتاب له مخې تاسو د عذاب، غوسې او انتقام مستحق نه شئ، د هغه کسانو په څېر چې د خپلو شومو اعمالو او د الله تعالی په امرونو کې د غفلت له امله یې وړ ګرځېدلي وه.

اخذلیک: تتمة النظام، ۳۵ صفحه، تألیف: قاضي القضات شیخ عبدالحکیم حقاني صاحب/ ژباړن:مولوي عبدالرحیم راشد

## خلاصهٔ گزارش اجراآت قضائی و اداری سال (۱٤٤٤) هجری قمری ریاست محکمهٔ مرافعهٔ ولایت بدخشان

محاکم ولایت بدخشان طبق احکام شریعت اسلامی، قوانین و رعایت متحدالمآل های ریاست محترم عمومی دارالانشاء ستره محکمهٔ ا.ا.ا مشکلات خلق الله را در عرصهٔ حقوقی، جزائی، اجرای وثایق مختلف النوع و کارهای اداری بطور احسن انجام داده است و دروازه های محاکم این ولایت در اوقات رسمی برای هموطنان عزیز ما باز بوده و به ارائیهٔ خدمات بطور رایگان برای مردم مصروف خدمت بوده اند.

خلاصهٔ اجراآت یک سالهٔ این محاکم قرار ذیل میباشد.

**۱ – در بخش موضوعات حقوقی:**

طی مدت یک سال به تعداد (٥٦٤٩) جلد دوسیه حقوقی ثبت دفاتر اندراج حقوقی محاکم گردیده که از آن جمله به تعداد (٤٦١) جلد دوسیه طی مکتوب مسترد گردیده، به تعداد (٢٤٩٣) جلد دوسیه ذریعهٔ قرارهای قضائی تصمیم اتخاذ گردیده، به تعداد (٦٧٠) جلد دوسیه با صدور فیصله های شرعی از دفاتر محاکم اخراج گردیده است و به تعداد (٢٠٢٥) موضوعات تحت بررسی قرار داشته که در نتیجه از سال ١٤٤٤ هـ ق به سال ١٤٤٥ هـ ق انتقال نموده است.

**۲- در بخش قضایای جزائی:**

طی مدت یک سال به تعداد (١١٤٩) قضیه در دفاتر ثبت اندراج جزائی محاکم ثبت گردیده که از آن جمله به تعداد (١٩٦) قضیه ذریعهٔ مکتوب مسترد شده، به تعداد (٢٣٨) قضیه ذریعهٔ قرارهای قضائی تصمیم اتخاذ گردیده، به تعداد (٤٩٢) قضیه با صدور فیصله های شرعی حل و فصل گردیده و به تعداد (٢٢٣) قضیه تحت بررسی قرار داشته که در نتیجه از سال (١٤٤٤) به سال (١٤٤٥) انتقال نموده است.

**۳ – در بخش اجرای وثایق:**

در جریان سال ١٤٤٤ هـ ق به تعداد (٧٥٢٦) قطعه وثایق مختلف النوع از محاکم ابتدائیه به شمول آمریت ثبت اسناد و وثایق و مخزن این ریاست اجرا گردیده است.

**٤- در بخش اداری:**

در سال (١٤٤٤هـ ق) به تحریرات مرافعه به تعداد (٥٢٦) قطعه عرایض مختلف النوع مراجعین ثبت شده که توسط رئیس محکمهٔ مرافعه احکام و برای محاکم مربوطه هدایات لازم داده شده بود که به دفتر عرایض ثبت و راجستر گردیده است، برعلاوه فرامین مقام عالی امارت اسلامی، مصوبات و متحدالمآل های ریاست عمومی دارالانشاء مقام محترم عالی ستره محکمه به وقت و زمان آن غرض تعمیل به ادارات ذیربط تکثیر گردیده است و در دفتر وارده و صادره به تعداد (٥٣٤٥) مکاتب و پیشنهادات وارد و صادر گردیده است.

**٥- در بخش گزارش راپور ها:**

راپور های ماهوار، ربعوار و سالتمام طبق هدایت ریاست محترم پلان و پالیسی ستره محکمه در فورمه های خاص آن خانه پری گردیده عندالموقع به مرجع مربوطه گزارش ارائیه گردیده است.

**٦- در بخش دیتابیس:**

قضایای حقوق و جزائی اعم از دیوان های مرافعه و محاکم ابتدائیه بعد از اجراآت در اکسل شیت این ریاست ثبت گردیده اجراآت شده است.

**۷- در بخش نظارت از محاکم ابتدائیه:**

رئیس محکمهٔ مرافعه در جریان سال ١٤٤٤ هـ ق از محکمهٔ ابتدائیه شهری و ١٩ محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های این ولایت بازدید به عمل آورده، حاضری و غیر حاضری پرسونل محاکم مربوطه را کنترول نموده، در بخش های قضائی و اداری خلا و نواقص که داشتند رهنمائی های لازم صورت گرفته است.

**۸- در بخش نظارت از زندان:**

رئیس محکمهٔ مرافعه در جریان سال گذشته چندین بار از زندان این ولایت بازدید به عمل آورده از وضعیت زندانیان و چگونگی بررسی دوسیه های نسبتی شان اقدام نموده است.

**۹- در بخش ارتقای ظرفیت:**

در جریان سال غرض ارتقای ظرفیت برای قضات محاکم ابتدائیه ولسوالی ها دو مراتب سیمینار در بخش های اداری و قضائی از تخصیصات دست داشته این ریاست در تالار جلسات محکمهٔ مرافعهٔ بدخشان دایر گردید.

١٠– در بخش سمع شکایات:

مشکلات محاکم ابتدائیه از نزدیک مشاهده گردیده برای حل آن اقدام لازم صورت گرفته و شکایات مراجعین هر محکمه از نزدیک استماع گردیده، برای رفع آن به محاکم مربوطه هدایات لازم داده شد.

**۱۱– در بخش اداراه و ارتباط:**

جلسات اداری با والی صاحب ولایت در مقر ریاست محکمهٔ مرافعه با اعضای شورای علماء، رؤسای ادارات عدلی و قضائی عندالضرورت و طور پانزده روزه با قضات، پرسونل اداری و خدماتی دایر گردیده بالای موضوعات مختلف بحث و تبادل نظر صورت گرفت.

**۱۲– در بخش انتقال ادارهٔ حقوق به محاکم:**

در جریان سال گذشته آمریت و مدیریت های حقوق از بدنهٔ ریاست محترم عدلیه به محاکم بطور منظم انتقال نمود و نیازمندی های دفاتر شان از تخصیص این ریاست مرفوع گردید.

**۱۳– در بخش مالی و حسابی:**

معاشات پرسونل محاکم اعم از مرکز و ولسوالی های این ولایت بر اساس احصائیهٔ حاضری از تخصیصات ارسالی مقام محترم عالی ستره محکمه غرض شفافیت از طریق بانک به وقت معینه آن اجرا گردیده است و نیازمندی های ادارات مربوطه از قبیل قرطاسیه جات، مفروشات، موبل و فرنیچر و لوازم الکترونیکی از قبیل کمپیوتر و پرنتر و سایر ضروریات با در نظرداشت اولویت از باب و فصل مربوطه خریداری و توزیع گردیده است.

**۱٤– در بخش حفظ و مراقبت:**

بطور دوامدار صفایی دفاتر کاری، دهلیزها و ماحول محاکم، سرسبزی محوطه محاکم، درختان و در حفظ اجناس مربوطه به محاکم توجه جدی صورت گرفته است و اجناس قابل ترمیم تحت نظر هیئت مؤظف به مبلغ اندک ترمیم گردیده بعداً غرض استفاده به ادارات مربوطه توزیع گردیده است.

## د بلخ محاکمو په دوو اونیوکې د (۳۹۳)دوسیو په حل او فصل سربېره ( ٤٠١ )وثیقې هم اجرا کړې

په دغه راپور کې له ١٤٤٥/٢/١٧هـ ق نېټې څخه تر١٤٤٥/٢/٢٩ هـ ق نېټې پورې د بلخ ولایت اړوند مرافعه محکمې، د زون نظامي محکمې، د ښاري محکمې د دیوانونو او ټولو ابتدائیه محاکمو او د وثایقو د امریت قضائي او حقوقي اجراآت شامل دي.

**په حقوقي ( مدني او تجارتي) برخه کې :**

په یاده موده کې د بلخ ولایت محاکمو ته (١٩٢) بېلا، بېلې حقوقي (مدني او تجارتي) دوسیې واردې شوي دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شمېر دوسیې موجودې وې.

له دې ډلې (٥٢) دوسیې فیصله شوې دي، (٣٧) دوسیې مکتوبي مستردې شوې، د (١٤٤) دوسیو په اړه قرار قضائي صادر شـوي او نورې تر کار لاندې دي.

**په جزائي برخه کې:**

په یاده موده کې د بلخ ولایت محاکمو ته (١١٧) بېلا، بېلې جزائي دوسیې واردې شوې دي؛ په داسې حال کې چې مخکې هم یو شـمېر دوسیې موجودې وې.

له دې جملې څخه (٦٣) دوسیې فیصله شوې دي، (٢٣) دوسیې مکتوبي مستردې شوې دي، د (٧٤) دوسیو په تړاو قرار قضائي صادر شوي او پاتې نورې تر کار لاندې دي.

دغه راز په همدې موده کې (٤٠١) بېلا بېلې وثیقې هم اجرا شوې دي.

## محاکم ولایت جوزجان طی دو هفته علاوه بر حل و فصل (۲۲۲) دوسیه، (۲۰۷) قطعه وثایق نیز اجرا کرده است

اجراآت دواوین محکمهٔ مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ولسوالی های ده‌گانهٔ ولایت جوزجان از تاریخ ١٤٤٥/٢/١٦ الی ١٤٤٥/٢/٣٠ هـ ق به شرح ذیل است:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد ( ٥٩ ) دوسیه وارد محاکم گردیده؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جمله (٣) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، به تعداد (٢٨) دوسیه به قرار قضائی اصدار حکم گردیده، بتعداد (٢٧) دوسیه فیصلهٔ شرعی شده و متباقی دوسیه تحت کار است.

**در بخش حقوقی:**

در جریان دو هفته بتعداد (١١٦) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرارداشت.

از آن جمله (١٥) دوسیه مکتوبی مسترد گردیده، به تعداد (١٠٧) دوسیه به قرار قضائی اصدار حکم گردیده، به تعداد (٤٢) دوسیه فیصله شرعی شده و متباقی دوسیه تحت کار است.

**در بخش وثایق:**

در مدت مذکور به تعداد (٢٠٧) قطعه وثایق مختلف النوع آمریت محترم وثایق و محاکم ولسوالی های ده گانه ولایت جوزجان اجرا کرده است.

## محاکم ولایت دایکندی در جریان یک ماه علاوه بر حل و فصل (۸۹) دوسیه، به تعداد (۲۷۰) وثایق نیز اجرا کرده است

گزارش هفته وار محاکم مربوطه ولایت دایکندی که به این ریاست مواصلت ورزیده است خلاصهٔ اجراآت دواوین محکمهٔ مرافعه، آمریت ثبت اسناد وثایق و مخزن، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیه ولسوالی های نه گانهٔ ولایت دایکندی از تاریخ ١۴۴۵/١/١۵ الی ١۴۴۵/٢/١٧ هـ ق قرار ذیل است:

**در بخش حقوقی:**

طی یک ماه به تعداد (۴۹) جلد دوسیه حقوقی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین جلد دوسیه تحت دوران محاکم قرار داشت.

از آن جمله راجع به (٣١) جلد دوسیه قرار قضائی صادر شده، به تعداد (۵) جلد دوسیه مسترد مکتوبی گردیده، به تعداد (٢٧) جلد دوسیه فیصله گردیده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش جزائی:**

طی یک ماه به تعداد(۴٠) جلد دوسیه جزائی وارد محاکم گردیده است؛ در حالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران محاکم قرارداشت.

از آن جمله به تعداد (١٩)جلد دوسیه فیصله گردیده، در رابطه به (٧) جلد دوسیه قرار قضائی صادر شده و متباقی دوسیه ها تحت کار می باشد.

**در بخش وثایق:**

در جریان یک ماه به تعداد(٢٧٠) قطعه وثایق مختلف النوع بعد از بررسی و طی مراحل اصولی اجرا گردیده است.

## محاکم ولایت فاریاب در جریان دو هفته علاوه بر حل و فصل (٤٤٣) دوسیه، به تعداد (۳۷۰) قطعه وثایق نیز اجراء کرده است

اجراآت دواوین مرافعه، وثایق، محکمهٔ ابتدائیهٔ شهری و محاکم ابتدائیهٔ ولسوالی های ولایت فاریاب از تاریخ (٢/١۵/ ١۴۴۵ الی ٢/٣٠/ ١۴۴۵) هجری قمری به شرح ذیل مواصلت ورزیده است:

**در بخش جزائی:**

در جریان دو هفته به تعداد (٧٣) دوسیه وارد گردید؛ در حـالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جملـــــه (٤ ) دوسیه مکتوبی مسترد شده، پیرامون (٢٥ ) دوسیه قرار قضـــــائی صادر شده، ( ٣٦ ) دوســــــیه فیصله شده ومتباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش حقوقی :**

در جریان دو هفته به تعداد(٢١٩) دوسیه وارد محاکم گردیده است؛ درحالیکه قبلاً نیز چندین دوسیه تحت دوران قرار داشت.

از آن جملـــــه ( ٢١ ) دوسیه مکتوبی مسترد شده، در رابطه به ( ١٩٧) دوسیه قرار قضـــــــائی صادر شده، ( ١٦٠) دوســــــیه فیصله شده و متباقی دوسیه تحت کار میباشد.

**در بخش وثایق:**

د رمدت ذکر شده به تعداد (٤٣٩) وثایق مختلف النوع نیز اجرا گردیده است.

## د پکتیا ولایت د مرافعې محکمې لپاره د نوي ټاکل شوي رئیس د معرفت غونډه ترسره شوه

د یکشنبې په ورځ (د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د درېيمې میاشتې په دوهمه نېټه) د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د غونډو په تالار کې د دغه ولایت د مرافعه محکمې لپاره د نوي ټاکل شوي رئیس محترم الحاج مفتي عبیدالله «خالد» د معرفت غونډه تر سره شوه.

غونډه د پکتیا ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د ترافیکو دیوان د عضو محرر مولوي عبدالله «دیوبندي» لخوا د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه.

په یاده غونډه کې د پکتیا ولایت مرستیال والي محترم مولوي انعام الله «صلاح الدین»، د پکتیا ولایت امنیه قوماندان محترم الحاج مولوي محمدعمر «مخلص»، د پکتیا زون نظامي ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي عبدالهادي «همت»، د پکتیا ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې رئیس محترم مولوي محمدرحیم «نعماني»، د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د جزا دیوان رئیس محترم مولوي واحدالله «صدیقي»، د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د امنیت عامه دیوان رئیس محترم مولوي حمدالله «حمیدي»، د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې د مدني او عامه حقوقو دیوان رئیس محترم مولوي محمدکریم «نسیمي»، د پکتیا ولایت د عدلیې رئیس محترم مولوي محمد رئیس «محمدي»، د پکتیا ولایت د چاپېریال ساتنې رئیس محترم مولوي عبدالهادي، د پکتیا ولایت د عامې روغتیا رئیس محترم مولوي خیرمحمد «منصور»، د پکتیا ولایت د علماوو شورا غړو، د پکتیا ولایت د بېلابېلو ادارو لوړ رتبه مسؤلینو او عامو هیوادوالو ګډون درلود.

د غونډې په دوام د پکتیا مرستیال والي محترم مولوي انعام الله «صلاح الدین» خبرې وکړې او په خپلو خبرو کې یې د قضاء او امر بالمعروف چارې درونده مسؤلیت وباله، د قضاء اصول یې د اسلامي شریعت سره سم بیان کړل او د حضرت عمر«رضی الله عنه» د اقوالو سره سم یې پر استقامت او اخلاص خبرې وکړې.

نوموړي په غونډه کې حاضر مسؤلین او نورګډونوال تقوا ته وهڅول او یادونه یې وکړه چې که چېرې تاسو تقوا ولرئ ستاسو تر لاس لاندې کسان به د شرعي امورو سره سم ستاسو اطاعت کوي.

د پکتیا مرستیال والي د استقامت په هکله د ابراهیم بن ادهم «رحمه الله» زرینې کیسې د غونډې ګډونوالو ته بیان کړې او په پای کې یې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې نوي ټاکل شوي رئیس الحاج مفتي عبیدالله «خالد» ته ښه راغلاست ووایه او د لا بریاوو غوښتنه یې ورته وکړه.

دغه راز د پکتیا ولایت امنیه قوماندان الحاج مولوي محمدعمر «مخلص» صاحب د شهیدانو پر منزلت او د کونډو او یتیمانو پر احوال رڼا واچوله، د اسلامي نظام پر بقاء یې خبرې وکړې او یادونه یې وکړه چې باید د اسلامي نظام شکر اداء کړو .

ورپسې د پکتیا زون نظامي ابتدائیه محکمې رئیس الحاج مولوي عبدالهادي «همت» صاحب په خپلو خبرو کې په اسلامي نظام کې د چاروکو تغیر او تبدیل یو اصل وباله، د مسؤلینو د تغیر او تبدیل په مورد یې د اصحابو کرامو اقوال او افعال بیان کړل، د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې لپاره نوي ټاکل شوي رئیس الحاج مفتي عبیدالله «خالد» صاحب ته یې ښه راغلاست ووایه او د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې مخکني رئیس مفتي امان الله «منقاد حقاني» څخه یې مننه وکړه او په لوګر ولایت کې یې د نوي مسؤلیت مبارکي ورکړه.

د پکتیا د مرافعه محکمې مخکني رئیس محترم مفتي امان الله «منقاد حقاني» هم د خپلو خبرو په دوام د پکتیا ولایت مرافعه محکمې لپاره د نوي ټاکل شوي رئیس الحاج مفتي عبیدالله «خالد» ستاینه وکړه، نوموړی یې د همدې بست لایق وباله او په امورو کې یې د موفقیت دعاوې ورته وکړې.

دغه راز د پکتیا ولایت د علماوو شورا غړي شیخ القرآن والحدیث مولوي احمدجان صاحب د غونډې ګډونوالو ته د اسلامي نظام او د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله د ژوند او کړنو په مورد تفصیلي خبرې وکړې.

د غونډې په پای کې د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې لپاره نوي ټاکل شوي رئیس الحاج مفتي عبیدالله «خالد» د غونډې ګډونوالو ته خبرې وکړې، د اسلامي امارت په نظام کې یې د چاراوکو تغیر او تبدیل یو اصل وباله، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله پر اطاعت یې خبرې وکړې، د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظه الله په ژوند او په علم یې رڼا واچوله او عالیقدر امیرالمومنین حفظه الله و رعاء ته یې د ولي الله لقب ورکړ.

نوموړي د قرآنکریم د آیاتونو په رڼا کې د عدل په اړه تفصیلي خبرې وکړې او قضاء یې درونده مسؤلیت وباله، د پکتیا ولایت د مرافعه محکمې له مخکني رئیس محترم مفتي امان الله «منقاد حقاني» څخه یې مننه وکړه او د مجلس له ګډونوالو څخه د دعاء غوښتونکی شو .

یاده غونډه د پکتیا ولایت د علماء شورا د غړي محترم شیخ عبدالجبار «احمدي» لخوا د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د خوست ولایت د مرافعه محکمې نوي ټاکل شوي رئیس د یوې غونډې په ترڅ کې معرفي شو

د خوست ولایت د مرافعه محکمې لپاره نوي ټاکل شوي رئیس محترم شیخ امین الله (منیب) د یوې ناستې پر مهال د یاد ولایت د محاکمو او نورو ولایتي ادارو مسؤلینو ته معرفي او په رسمي ډول یې دنده پیل کړه.

د مرافعه محکمې د نوي رئیس د معرفت په موخه جوړه شوې ناسته چې د خوست ولایت مقام مرستیال ښاغلي مولوي محبوب شاه (قانت)، د علماوو شورا رئیس محترم شیخ انورحسین (حسیني)، د مرافعه محکمې مخکني رئیس محترم خلیفه محبوب الرحمن (نقشبندي)، د مرافعه محکمې نوي رئیس محترم شیخ امین الله (منیب)، د مرافعه، ښاري او ولسوالیو محاکمو قضائي او اداري کارکوونکو، د امر بالمعروف رئیس، د دولتي ادارو اړوند رئیسانو او دیني عالمانو ګډون کړی و، د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛

ورپسې د علماوو شورا رئیس محترم شیخ انور حسین (حسیني) د مرافعه محکمې نوي رئیس ته ښه راغلاست ووایه او د مخکیني رئیس له خدمتونو یې مننه وکړه.

نوموړي ډاډ ورکړ چې نوي رئیس سره به یې په ټولو شرعي امورو او فیصلو کې همکار وي.

دغه راز مرستیال والي ښاغلي مولوي محبوب شاه (قانت) وویل چې زموږ د شهیدانو ارمان دا و او قرباني یې د همدې لپاره ورکړې ترڅو خپلو خلکو لپاره شرعي نظام رامنځته او ټولې فیصلې د شریعت په رڼا کې ترسره شي .

د خوست ولایت د مرافعې محکمې مخکني رئیس محترم خلیفه محبوب الرحمن (نقشبندي) وویل، په دغه ولایت کې د خپل مسؤلیت پر مهال د فساد د مخنیوي، د کارونو د چټکتیا، اداري اصلاحاتو او د قاضي صاحبانو د ورتیا لوړونې په برخه کې د پام وړ پرمختګ شوی دی.

د مرافعه محکمې نوي رئیس محترم شیخ امین الله (منیب) په خپلو خبرو کې ډاډ ورکړ چې د ولایتي اداري او نورو مسؤلینو په ملتیا به د مظلومانو له حقونو دفاع وکړي او د شریعت په رڼا کې به فیصلې صادرې کړي.

یاده غونډه د دعا په ویلو سره پای ته ورسېده .

## د کونړ د مرافعه محکمې رئیس د دغه ولایت د شیګل ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه

په ۱۴۴۵/۲/۲۷ هـ ق نېټه د کونړ ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم الحاج مولوي عزیز الرحمن (حقاني) د یاد ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې د رئیس مولوي محمد ایوب (قلم) او د مرافعه محکمې د مدني دیوان د رئیس محترم مولوي عبدالمالک په ملتیا د کونړ ولایت د اړوند شیګل ولسوالۍ له ابتدائیه محکمې څخه لیدنه وکړه.

د شیګل ولسوالۍ ابتدائیه محکمې رئیس مولوي حبیب الرسول د یاد پلاوي راتګ ته هرکلی او ښه راغلاست ووایه.

د مرافعه محکمې محترم رئیس د نوموړي ولسوالۍ د قضائي او اداري اجراآتو د کتلو ترڅنګ په یو لړ قضائي اجراآتو مفصلې خبرې وکړې او د یو تعداد اجراآتو په اړه یې ورته لازمي لارښوونې وکړې.

دغه راز د مرافعه محکمې رئیس د ابتدائیه محکمې اړوند د حقوقو مدیریت څخه هم لیدنه ترسره کړه او د مربوطه مدیریت کارونه یې هم له نږدې څخه وکتل.

د مرافعه محکمې رئیس د یادې ابتدائیه محکمې له رئیس مولوي حبیب الرسول سره د اجراآتو د بهبود په موخه تفصیلي خبرې وکړې.

محترم الحاج مولوي عزیز الرحمن (حقاني) د خپل سفرو موخه د محاکمو په اجراآتو کې شفافیت او د هیوادوالو ستونزو ته په وخت رسېدنه وبلله او زیاته یې کړه ان شاء الله په راتلونکي کې به هم د محاکمو د اجراآتو څخه د څارنې او مشکلاتو د حل او د هیوادوالو د ستونزو د اورېدو په موخه خپلو سفرونو ته ادامه ورکوو؛ تر څو د محاکمو اجراآت په احسنه، شفافه او بې پرې توګه تر سره شي.

په پای کې نوموړي د ابتدائیه محکمې مسؤلینو او منسوبینو ته هدایت وکړ چې حاضرۍ ته پابند اوسئ، په ټاکلي وخت قضایاوو ته رسېدنه وکړئ، له مراجعینو سره ښه سلوک کوئ او په بشپړ شفافیت او صداقت خپلې چارې ترسره کړئ.

## رئیس محکمهٔ مرافعهٔ سرپل از زندان آن ولایت بازدید کرد

محترم الحاج مولوی یارمحمد «عمری» رئیس عمومی محکمهٔ مرافعهٔ ولایت سرپل با محترم مولوی ریاس الدین «منصور» رئیس دیوان جزاء محکمهٔ مرافعه به تاریخ ۱۴۴۵/۲/۲۵ هـ ق از محبس آن ولایت بازدید نمودند.

در ابتداء رئیس محکمهٔ مرافعه با جمع از مسؤلین آمریت محبس دیدار نمود؛ سپس به توصیه ها و سخنان پندآمیز شان بشرح ذیل صحبت نمودند:

۱ ــ برای هر مسلمان لازم است که تقوی و پرهیزگاری را پیشه قرار دهد؛ خصوصاً مسؤلین نظام امارت اسلامی و بالخصوص مسؤلین محابس؛ چون در محابس هم اطفال قرار دارند و هم زنان؛ پس لازم است که همه افراد، مجاهد واقعی و پرهیزگار باشند تا نام نیک نظام امارت اسلامی را که در بدل خون شهدای واقعی آمده حفظ نمایند؛ بخاطری که محافظت نام نیک نظام امارت اسلامی توسط افراد شایسته و کسانیکه از سوابق نیک برخوردار باشند صورت میگیرد.

۲ ــ وظیفهٔ مسؤلین محابس نگهداری، مراقبت و خدمت به زندانیان است و بخاطر مراقبت از ضروریات زندانیان از قبیل مریضی، خوراک و دیگر تحت نظر مسؤلین انجام یابد.

۳ ــ در رابطه به موضوعات فوق الذکر آمر محبس وعده سپرد که هدف ما خدمت به نظام امارت اسلامی، مراقبت و پاسداری از زندانیانیکه در این محبس قرار دارند میباشد.

در آخر رئیس محکمهٔ مرافعه همراه با رئیس دیوان جزاء مرافعه از تمام زندانیان محبس دیدار و از نحوه برخورد مسؤلین و نیز از چگونگی خوراک و دیگر ضروریات آنها پرسش به عمل آوردند.

و همچنان عدهٔ کثیری از محبوسین از برخورد نیک مسؤلین محبس رضایت خویش را ابراز نمودند .

سرپرست مسئوول مدیر: مولوي عبدالرحیم (راشد)
اديتور : جوادالله (جاهد)
ډیزاین: حمیدالله (راسخ)

لاإله إلا الله محمد رسول الله

د افغانستان اسلامي امارت د سترې محکمې دغه ځرګندویه خپرونه
په میاشتکې درې ځله چاپیږي

## دکابل د مرافعه محکمې رئیس دکورنیو چارو وزارت د جرمونو پر وړاندې دکشف او مبارزې له لوی رئیس سره وکتل

د کابل ولایت د مرافعه محکمې عمومي رئیس ښاغلي مولوي عبدالشکور «رشادآخندزاده» د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د صفرالمظفر میاشتې په ۲۲مه نېټه دکابل ښار د ابتدائیه محاکمو د څلورو زونونو له محترمو رئیسانو، د کورنیو چارو وزارت د جرمونو پر وړاندې د کشف او مبارزې له لوی رئیس محترم مولوي سلطان محمد (مفکر) او د کورنیو چارو وزارت د عمومي تحقیقاتو او محبس له کارکوونکي محترم مولوي نور احمد سره د بندیانو دوسیو ته په وخت د رسېدنې او له هغوی سره د شریعت مطابق چلند پر مواردو د بحث په موخه دکابل د مرافعه محکمې د مقام په دفتر کې وکتل.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت سره پیل شوه؛ ورپسې ښاغلي مولوي عبدالشکور (رشادآخندزاده) د غونډې ګډونوالو په ښه راغلاست سربېره مقدماتي خبرې وکړې.

دغه راز د کورنیو چارو وزارت محترمو مسؤولینو د بندیانو په هکله د دوی د اجراآتو په اړه بشپړ معلومات وړاندې کړل او د خپلو اجراآتو د لا بهبود لپاره یې د مرافعې محکمې له رئیس څخه په یو لړ مربوطه مواردو کې د همکارۍ غوښتنه وکړه.

وروسته د مرافعه محکمې رئیس ښاغلي «رشاد آخندزاده» او د څلورو زونونو د ابتدائیه محاکمو ښاغلو رئیسانو د بندیانو دوسیو ته په ښه توګه د رسېدنې په هکله هر اړخیز بحث وکړ.

د ناستې په پای کې دواړو ارګانونو په مربوطه مواردو کې یو بل ته د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.

## رئیس محکمۀ مرافعه بغلان از سه محاکم ابتدائیۀ ولسوالی های آن ولایت بازدید کرد

به سلسلۀ بازدید ها و فعالیت های همیشگی به تاریخ۱٤٤٥/۲/۲۷ هـ ق محترم مولوی محمد یوسف (ابوالوفاء) رئیس عمومی محکمۀ مرافعۀ ولایت بغلان به همراهی محترم مولوی علی گل (حمیدی) رئیس دیوان مدنی محکمۀ مرافعه و محترم لطف الله (همت) مدیر مالی مرافعه از محاکم ابتدائیۀ ولسوالی های اندراب، ده صلاح و پلحصار دیدار و نظارت بعمل آورد.

رئیس محکمۀ مرافعه با هیئت همراهش با رؤسا، قضات و کارمندان اداری و مدیریت های حقوق آن محاکم ملاقات کرد و نیز از چگونگی اجراآت قضائی و اداری از قبیل (فیصلهجات حقوقی، جزایی، اندراج دوسیه جات، صادره و وارده و حاضری) شان را بررسی و ملاحظه کردند.

رئیس صاحب مرافعه بخاطری بهبود اجراآت قضائی و اداری به مسؤولین و منسوبین آن محاکم چنین هدایات اصولی و سازنده را توصیه فرمودند:

ضمانت خط ها باید مطابق رهنمای وثایق که از طرف مقام عالی ستره محکمه مواصلت ورزیده است در وثیقه شرعی ترتیب گردد.

دوسیه های مندرج اندراج حقوقی و جزائی باید بالترتیب رسیدگی و فیصله شرعی صورت گیرد.

دوسیه های که ترکیب از حق الله وحق العبد باشد؛ طرفین دعوی آن بنابر پاه در میانی مصلحین و خیر اندیش جانب حق العبد اش اصلاح نماید و قضات محترم باید در قسمت حق الله آن دوسیه ها فیصله خویش را صادر نما یند

در رابطه به دوسیه های که از جمله غیر مسموعات باشد مطابق ماده (۱۰۴) لایحۀ محاکم مبنی برعدم سمع دعوی قرار خویش را صادر نمائید.

همچنان در رفع بعضی از نواقص های محاکم متذکره که در بخش های (راپوردهی قضایای موجود، فیصله شده، مسترد شده، حاضری، اندراج دوسیه جات، صادره و وارده) موجود بود از طرف رئیس محکمۀ مرافعه رهنمائی های اصولی و ارزنده به مسؤولین توصیه شد و بدین ترتیب بازدید رئیس عمومی محکمه مرافعه بغلان از محاکم ولسوالی های سه گانه (اندرآب، ده صلاح و پلحصار ) آن ولایت به پایان رسید.

## د میدان وردګ ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې لپاره د نوي رئیس د معرفت غونډه ترسره شوه

د روان ۱۴۴۵ هـجري قمري کال د ربیع الاول د میاشتې په درېیمه نېټه د میدان وردګ ولایت د ښاري ابتدائیه محکمې لپاره نوی ټاکل شوی رئیس محترم مولوي موسی کلیم (عاصم) صاحب د یوې ناستې پر مهال د مرافعه محکمې د رئیس ښاغلي مولوي عبدالکریم (حقاني) صاحب لخوا د ښاري ابتدائیه محکمې محترمو قضاتو ته ور معرفي او رسماً یې خپله دنده پیل کړه.

د ښاري ابتدائیه محکمې د نوي رئیس ښاغلي مولوي موسی کلیم (عاصم) صاحب د معرفت په موخه جوړه شوې ناسته چې د ښاري ابتدائیه محکمې قضائي او اداري کارکوونکو په کې ګډون درلود، د قرآنکریم د مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه؛ ورپسې د میدان وردګ ولایت د مرافعه محکمې رئیس ښاغلي مولوي عبدالکریم (حقاني) د ښاري محکمې نوي رئیس ته د ښه راغلاست ویلو ترڅنګ لومړی د ښاري ابتدائیه محکمې ټول قدرمن قضات په جلا، جلا توګه معرفي کړل.

نوموړي د ښاري محکمې د نوي رئیس په اړه وویل، محترم عاصم صاحب یو درونـد شخصیت لرونکی، ښه عالم، مجاهد او ډېر قوي مصنف دی، د اشغال پر وړاندې د جهاد دوره کې یې د نوموړي د سرښندنو پر بیانولو سربېره د ښاري محکمې د مخکني رئیس مفتي عبدالهادي (فیصل) صاحب له خدمتونو څخه هم مننه وکړه.

ورپسې محترم مولوي موسی کلیم (عاصم) د ښاري ابتدائیه محکمې په مختصر ډول څو موضوعاتو ته په اشاره وویل، الحمدلله چې جهاد مو کړی او دا د جهاد برکت دی چې لوی او بېلا بېل خدمتونه یې راڅخه اخیستي دي، له الله تعالی څخه یې د ښه ترسره کولو د توفیق غوښتونکي یو.

نوموړي ټولو محترمو قضاتو ته د قضاء په برخه کې چې یو درونـد مسؤولیت دی سپارښتنه وکړه چې ټول ورسپارل شوي کارونه به د شریعت په رڼا کې ترسره کوي او د دغه مظلوم او ځورېدلي ملت به په پوره امانتدارۍ خدمت کوي.

دغه راز د یادې محکمې قدرمنو قضاتو هم ډاډ ورکړ چې د نوي رئیس صاحب سره به په ټولو امورو او په شرعي فیصلو کې همکار وي.

یاده غونډه د دعاء په ویلو سره پای ته ورسېده.

## د زابل ولایت د ښاري محکمې له لوري(۹ ) متهمینو ته تعزیري سزا ورکړل شوه

یکشنبه د روان ۱۴۴۵ هـ ق کال د ربیع الاول میاشتې په دویمه نېټه د مرافعه او ښاري محکمې په انګړ کې د یوې ښځې په ګډون (۹) کسانو ته د غلا، نامشروع اړیکو او غیر شرعي نکاح کولو د جرمونو په اساس، د ښاري محکمې ریاست د جزا دېوان په حکم تعزیري سزا ورکړل شوه.

یاد تعزیرات په داسې حال کې ترسره شول چې د زابل ولایت د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ مولوي نقیب الله (اخندزاده)، د ښاري محکمې رئیس محترم مولوي فضل الرحمن (فضلي)، د مرافعه او ښاري محاکمو ټولو قضائي او اداري کارکوونکو او ګڼ شمېر مراجعینو شتون درلود.

غونډه د قرآنکریم د څو مبارکو آیاتونو په تلاوت پیل شوه، ورپسې د مرافعه محکمې رئیس محترم شیخ نقیب الله (اخندزاده) په اسلامي نظام کې مجرمینو ته د تعزیراتو ورکولو پر اهمیت او د ټولنې پر اصلاح مفصلې خبرې وکړې.

وروسته په تعزیر بالضرب سره محکوم شویو کسانو ته تعزیر ورکړل شو او د تعزیري سزا د تطبیق په موخه جوړه شوې غونډه د دعا په ویلو پای ته ورسېده.




میزان

د لیکوال پلاوي تر څارنې لاندې
پته : ستره محکمه، د بهرنیو، عامه اړیکو او مطبوعاتو ریاست
publications.sc١٤٤٣@gmail.com
www.supremecourt.gov.af
د ټلیفون شمېرې: ۰۲۰۲۳۰۰۳۶۱
۰۲۰۲۳۰۲۲۶۳